بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ

له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ». «اسلام په پنځو شیانو ولاړ دی: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول او بنده دی، لمونځ کول، زکات ورکول، د بیت الله حج کول، او د رمضان روژه نیول».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم اسلام له یوې پیاوړې او غښتلې ودانۍ سره تشبیه ورکړه، د هغو پنځو رکنونو له امله چې دا ودانۍ یې پورته کړې ده، او د اسلام نورې پاتې ځانګړتیاوې لکه د ودانۍ بشپړوونکي دي. او د دغو رکنونو لومړی یو یې: دوه ګواهیاني ورکول دي؛ یوه دا چې له الله جل جلاله پرته بل په حقه معبود نشته او دا چې محمد د الله جل جلاله رسول دی، او دا دواړه یو رکن دی؛ چې یو له بل څخه نه جلا کیږي، بنده په دواړو ګواهیانو کې په خوله اقرار کوي پداسې حال کې چې د الله جل جلاله په یووالي ګواهي ورکوي او پدې چې هغه یوازې د عبادت مستحق دی، او د دې ګواهۍ په غوښتنه عمل کوي، بل دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت ایمان لري او پیروي یې کوي. او دویم رکن: د لمانځه ادا کول دي، چې هغه په شپه او ورځ کې پنځه وخته فرض لمونځونه ادا کول دي له شرطونو، رکنونو او واجباتو سره، یعني: سهار، ماسپښین، مازدیګر، مابنام او د ماخوستن لمونځونه. او دریم رکن: په هر هغه مال کې د فرض زکات ادا کول دي چې په شریعت کې ټاکلې اندازې ته رسیدلی وي، د زکات ورکول یو واجب مالي عمل دی، چې مستحقو کسانو ته ورکول کیږي. او څلورم رکن حج دی چې مکې مکرمې ته د مناسکو د پر ځای کولو لپاره د الله تعالی د عبادت په نیت د تللو قصد کول دي. او پنځم رکن د رمضان روژه ده چې له سهار راختلو څخه تر لمر لوبدو پورې د الله جل جلاله د عبادت په نیت له خوراک، څښاک او داسې نورو روژه ماتوونکو شیانو څخه ډډه کول دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65000

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee